**د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق**

**ځکه چې پر هر چا حساب کيږی**

# مطبوعاتی اعلاميه

**باميان په افغانستان کې هغه لومړني ولايت دی چيرته چې دغه د لويې کچې سروی ترسره کيږی**

**د احصايې مرکزی اداری CSO او د ملګری ملتونو د وګړو صندوق UNFPA په باميان ولايت کې د اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی لپاره د ارقامو راټولول بشپړ کړی دي(ا.د.ا.س)**

۱۳ اکتوبر، ۲۰۱۱ باميان

په باميان ولايت کې اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی په برياليتوب سره د ارقامو د راټولولو پړاو بشپړ کړ.

له ۵۰۰ څخه زيات د باميان ولايت اوسيدونکی په کار ګومارل شوی او روزل شوی تر څو د دغه لويې کچې سروی لپاره د ارقام راټولوونکو په توګه دنده تر سره کړی، کومه چې په باميان او هيواد کې د خپلې بنې لومړی سروی ده. د اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی لپاره ارقام ټولوونکی هغو ټولو ولسواليو ته ولاړل تر څو ولس ته موقع ورکړی چې وشمارل شي.

سروی کوونکی په ټول ولايت کې هرې کورنی ته ولاړل تر څو اساسی ديموګرافی ارقام راټول کړی او همدا رنګ اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی ارقام د باميان ولايت د ټولو کليو له ۵۰٪ کورنيو څخه راټول کړی.

د احصائيې مرکزی اداره واک لری چې دافغانستان دولت ته د ډاد وړ اجتماعی-اقتصادی ارقام برابر کړی تر څو د اغيزناکه او غوره حکومتداری، پلان جوړوني او د زيرمو ويش ته چمتو ووسی.د ملګری ملتونو د وګړو صندوق په تخنيکی ملاتړ او د جاپان دولت په مالی ملاتړ، د اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی به ولايتی حکومت ته اړين ارقام وړاندې کړی تر څو په اغيزمنه توګه د خلکو خدمت وکړای شی.

په افغانستان کې د UNFPA استازی ښاغلی اری هوکمن وويل "د وګړو خوځښت – د وګړو د اندازې، جوړيدني او ويش په ګډون د زيږيدنو، مړينو او د يو بل تر مينځ مهاجرت کولی شی د ټولنيز او اقتصادی پرمختګ پر هر اړخ باندې اغيز وکړی. د وګړو د ارقامو توليدول، تحليلول او خپرول د ښه حکومتداری لپاره ډير مهم دی او د باثباته او بريالی پروګرامونو او سياست ګزاری په پرمختګ کې مرسته کوی. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق خوشاله دی چې اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی په باميان ولايت کې ګوری او موږ پر دې وياړو چې دغه د لويې کچې سروی به د باميان ولس لپاره د کار بې سارې مواقع برابرې کړی".

له يکاولنګ ولسوالی څخه يو تن ارقام راټولوونکی وويل "زموږ ولسوالی ته د دغه پروژې د رارسيدلو مخکې موږ ټول بيکاره ځوانان وو نو دغې پروژې نه يواځې د پيسو پيدا کولو موقع برابره کړه بلکې د راټلونکی لپاره به زموږ مهارتونه نور هم غښتلی کړی."

هيله کيږی چې اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی به د ملګری ملتونو د وګړو صندوق او نړيوال بسپنه ورکوونکو په دايمی ملاتړ په ټولو ۳۴ ولايتونو کې تر سره شی. په پای کې به دغه افغانستان ته قوی ملی او نيمه ملی ارقام د وګړو د کچې،سن او جنسيت په اړه وړاندې کړی. په مهمه توګه، اجتماعی-ديموګرافی او اقتصادی سروی به مهاجرت او همدارنګ د زده کړې او د وګړو د مسلکی خصوصياتو په اړه هم ارقام راټول کړی د مثال په توګه په ښونځی کې حضور او سواد.

د ټول ولايت د روزنو له يو شمير پيښو څخه ،د سيغان ولسوالی يو ځوان داسې وويل " د ځوان افغانانو په توګه دا زموږ دنده ده چې په خپلو ټولنو کې د ارقامو راټولول د خپل هيواد او ولسوالی د پرمختګ لپاره ترسره کړو"

د ارقامو د راټولولو پروسه نن په برياليتوب سره پای ته ورسيده. حال دا چې، د ارقامو د پراسس مرکز د باميان ولايت په مرکز کې جوړ شوی چيرته به چې بشپړ شوی پوښتنليکونه د ارقامو د داخلولو لپاره ليږل کيږی. اټکل کيږی چې دغه ارقام به د ۲۰۱۲ کال په سر کې چمتو شي.

د کهمرد ولسوالی د کلیو د شورا رییس وویل "مونږ به د خپلې همکاری په ترڅ کې هر کار  ته دوام وکړو ترڅو د خپلې ولسوالی ټول کلی  د دغې فعالیت په اړه خبر کړو، او تر څو په دغه پروژه کې بریالی ووسو.

د ارقامو د راټولولو د پروسې د نظارت لپاره د جاپان دولت هیئت د میرمن اوی یاګامیشی په مشری له بامیان څخه کتنه وکړه.

د جاپان سفارت په استازیتوب میرمن اوی یاګامیشی وویل " مونږ خوشاله یو چې د بامیان ولس په جدی توګه د اجتماعی-دیموګرافی او اقتصادی سروی سره همکاری کوی او  همدارنګ مونږ ویاړو چې جاپان له دغې مهمې پروژې سره مناسبه مرسته وکړی. مونږ امید لرو چې د افغانستان په نورو ولایتونو کې د پرمختګ د لویې کچې سروی ملاتړ ته دوام ورکړو.

# پای

.

## اړیکې

میرمن سارا جین کننګهم  د ارتباطاتو مسئوله UNFPA cunningham@unfpa.org

پایاب مرستیال نمایندهښاغلی یونس payab@unfpa.org  UNFPA

میرمن مرسدیتا تیا د سرشمیرنې متخصصه UNFPAtia@unfpa.org